# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۱۳مه | د ۲۰۱۹ د نومبر خلورمه | ۴۵٦مه گڼه


# د مرکزي حکومت چوپتیا؛

## پاکستاني عسکرو په گومل کې د افغانستان کانونه او ځنگلونه لاندې کړي دي



۳

**ټاکنې، پېچلي کارونه او ورکې پایلې** ۲ مخ

**د هورمز تنگی ولې نړۍ ته مهم دی؟** ۲ مخ

**د اوسنۍ دنډې لار مو شتمنۍ ته غځېدلې ده؟** ۵ مخ

## توحیدي: افغانستان د خبریالانو لپاره خطرناک هېواد دی

د نومبر دویمه، چې د خبریالانو پر وړاندې د جرایمو د عاملانو د معافیت پای ته رسېدو له نړیوالې ورځې سره برابر ده، تېره ورځ په کابل کې د خبریالانو د خوندیتوب کمېټې له لوري ونمانځل شوه. د خبریالانو د مصوونیت کمېټې ویلي، چې افغانستان د خبریالانو لپاره یو خطرناک هېواد دی او اندېښنه یې ښودلې، که د خبریالانو پر وړاندې د جرمونو مخه ونه نیول شي او پوښتنه یې ونه شي، ممکن د دوی پر وړاندې نور هم تاوتریخوالی زیات شي.

دوی له حکومت او اړوندو ارگانونو څخه په جدي توگه غوښتي چې دې موضوع ته پام وکړي.

د خبریالانو د مصوونیت کمېټې غړي صدیق الله توحیدي ویلي: «په دې غونډه کې د اطلاعاتو فرهنگ وزارت چاراواکو ویلي، چې حکومت د خبریالانو ستونزو ته تر ډېره رسیده گي کړې، خو په خبره یې چې په تېرو څو کلونو کې د ناامنیو او تروریستي پېښو له امله شاوخوا سل خبریالان وژل شوي دي». دوی ویلي، زورواکي، مافیایي کړۍ او ځیني حکومتي اداري د خبریالانو څخه غلط توقعات کوي او د دوی د فساد د افشا کېدو په صورت کې یې مخه نیسي. په ورته وخت کې یوناما ویلي چې په تېرو څو کلونو کې په ټوله نړۍ کې ۱۸۸۱ خبریالا وژل شوي چې ۴۵ سلنه یې په افغانستان کې دي، چې دا د جدي اندېښنې وړ مسئله ده.

د یوناما د بشري حقونو مشرې فیونا فریزر ویلي: «په تېرو څو کلونو کې ۱۸۸۱ خبریالان په ټوله نړۍ کې وژل شوي، چې شاخوا ۴۵ سلنه یې په افغانستان کې وژل شوي، د خبریالانو دا وژل ټکان ورکوونکي دي او د جدي اندېښنې وړ ده».

## په بهرنیو چارو وزارت کې باید جدي اصلاحات راوستل شي



۳ مخ

هېواد

۴ مخ

## میکرونیزیا

په دغه هېواد کې د هوا او چاپېریال ساتنه ښه ده او داسې اسانتیاوې شته، چې له اړو خلکو سره د ناروغتیا، وزگارتیا، زړښت او معلولیت په وخت کې مرستې وکړي.



## مالیې وزارت: د تېر کال په پرتله په عوایدو کې ۱۰ میلیارده زیاتوالی راغلی دی



مالیې وزارت وایي، سږ کال یې تر اوسه ۱٦۰ میلیارده افغانۍ عواید را ټول کړي، چې د تېر کال د همدې مودې په پرتله ۱۰ میلیارده زیاتوالی ښیي. د دغه وزارت ویاند شمروز خان مسجدي پرون ازادي راډیو ته وویل: «تېر کال مو تر دې وخته پورې ۱۵۰ میلیارده افغانۍ عواید راټول کړي وو، سږ کال ۱٦۰ میلیارده افغانۍ راټولې شوې، نو تېر کال ته په پام سره مو ۱۰ میلیارده افغانۍ عواید زیات راټول کړي.» ښاغلی مسجدي زیاتوي، تېر مالي کال د افغانستان د مالیې وزارت په ټول کال کې ۱۸۹ میلیارده افغانۍ عواید راټول کړي وو او روان کال په پلان کې ده چې له ۲۰۰ میلیاردو زیات عواید راټول شي. ښاغلی مسجدي زیاتوي، له فساد او قاچاق سره مبارزه، د مالیې په راټولولو کې له خصوصي سکټور سره همغږي او د یوه غوره میکانېزم پلي کولو یې عواید زیات کړي دي.

## مسافران از ناامنی در شاهراه بلخ - جوزجان نگران اند



شماری از مسافران در شاهراه بلخ – جوزجان رفت‌وآمد می کنند، از آن‌چه ناامنی‌ها در این مسیر می گویند، نگران استند.

این مسافران می گویند که نه تنها طالبان، بلکه دزدان و رهزنان نیز در این مسیر فعال استند و هرازگاهی مسافران را آزار و اذیت می‌کنند.

دادالله باشندۀ ولایت جوزجان در این باره گفت: «طالبان، دزدها، جنگ‌های انفرادی رخ می‌دهند در این مسیر و تهدیدات زیاد است».

در همین حال، یک منبع به طلوع‌نیوز گفته است که در دو ماه پسین بیش از ۴۰ تن از نیروهای امنیتی در این مسیر جان‌های شان را از دست داده‌اند. از سویی‌هم، مقام‌های امنیتی در بلخ می‌گویند که در پی این نگرانی‌ها، نُه پوسته امنیتی را در مسیر شاهراه بلخ - جوزجان ایجاد کرده‌اند.

جنرال عبدالرازق قادری آمر امنیت پولیس بلخ، جان باختن ۱۱ نیروی امنیتی را در این مسیر تائید می کند و می گوید: «در مسیر شاهراه نمبر یک، بلی ما قربانی دادیم. البته این نُه بس که در مسیر شاهراه نمبر یک ساخته شده‌اند، در جریان ایجاد این پوسته ها، هم از اردوی ملی هم از پولیس، سربازهای ما یک تعداد شان جان‌های شیرین خود را از دست دادند».

شاهراه بلخ – جوزجان، یکی از بزرگ‌ترین شاهراه‌های کشور شناخته می‌شود که مسیر انتقال کالاهای بازرگانی از بندر آقینه به مزارشریف و دیگر بخش‌های کشور نیز است.

باشنده‌گان شمال کشور، همچنان می‌گویند که ناامن شدن این شاهراه زیان‌های بزرگ مالی را به تجارت در کشور وارد خواهد ساخت.


if You Can Think It, We Can ink it.

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!

WAYGAL Printing Co.

وایگل چاپ

+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696

+93 (0) 202512626

Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

waygalprinting.co@gmail.com

دریځ

## ټاکنې، پېچلې کارونه او ورکې پایلې

د ولسمشریزو ټاکنو د پایلو په تړاو په وروستیو بدلونونو کې ۸۶ زره نورې رایې هم د درملوګ کمپنۍ له خوا باطلې بلل شوې دي. له دې سره د ټاکنو کمېسیون وایي چې په ټولو ولایتونو کې د رایو بیاشمېرنه او ورسره تفتیش هم پیلوي. بلخوا د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون وايي، د دوی له خوا د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته د ۱۸۰۰ محلونو اسناد ورسپارل شوي چې رایې یې باید له سره وشمېرل وشي. کمېسیون وایي، دا چاره به دری ورځې وخت واخلي.

که څه هم کمېسیون په چارو کې د پرمختګ ادعا کوي، خو اساسي پوښتنې شته چې لا هم بې ځوابه پاتې دي. د درملوګ کمپنۍ څه ډول کار کړی او ایا کمېسیون ته په تخنیکي لحاظ معلومېږي چې درملوګ باطلې کړې او یا د باور وړ ګڼلې رایې، رښتیا هم په راښه ډول ثابتې کړې دي او که نه. درملوګ یوازې پرېکړه کړې او پایله یې کمېسیون ته ورکړې ده، کمېسیون هم پرته له دې چې په تخنیکي لحاظ پر دې پوه شي او خپل متخصصین یې تایید کړي او یا هم پکې ښکېل وي، دا پایله منلې او پر اساس یې اجراأت کېږي. له بله اړخه معلومه نه ده چې د بیاشمېرنې او تفتیش پر مهال به نورې رایې هم باطلېږي او که به باطلې شوې رایې بېرته سمې شمېرل کېږي. که دا کار کېږي، پر کوم اساس کېږي او بیا د درملوګ د سیستم مانا څه شوه؟ که په بیاشمېرنه او تفتیش کې رایې نه باطلېږي او نه هم باطلې رایې د باور وړ ګرځي، نو تفتیش او بیاشمېرنه څه مانا لري؟

له بله اړخه لا هم پر کمېسیون شکونه دي چې دوی دې وتوانیږي چې ټاکنې پر خپل وخت اعلان کړي، ځکه چې ټاکل شوې وه د ولسمشریزو ټاکنو لومړنۍ پایلې د تېرې تلې میاشتې په ۲۷مه اعلان شوې وی، خو د ټاکنو کمېسیون پر ټاکل شوي وخت د پایلو پر اعلانولو ونه توانېد. وروسته بیا وویل شول چې د ټاکنو لومړنۍ پایلې د لړم میاشتې په ۱۶مه اعلان شي، خو کمېسیون د لومړنیو پایلو د اعلان نېټه نوره هم وغځوله او د لړم ۲۳مه یې د لومړنیو پایلو د اعلان ورځ وټاکله. اوس هم چې کارونه څه ډول روان دي او کارونه ورځ تر بلې پېچلي کېږي، نو وېره ده چې د ټاکنو پایلې به تر دې هم وروسته اعلان شي. له دې سره یوازې د دې یو میاشتې د ځنډ خبره نه ده، بلکې که ټاکنې دویم پړاو ته ځي او ښکاري هم چې ځي، نو دا اووه - اته میاشتې ځنډ دی چې مسوولیت به یې مخامخ د کمېسیون پر غاړه وي.

اوس چې خلک د ټاکنو د پایلو انتظار باسي، هغوی چې رایه یې ورکړې، لویه برخه پښېمانه دي او که دویم پړاو ټاکنې کېږي، تر دې به هم کم خلک پکې برخه اخلي. له بله اړخه هېڅ وخت زموږ ټاکنې داسې د بهرنیانو په لاس کې نه وې، لکه اوس چې دي. هر څه سیستم کوي او سیستم د بهرنیانو ( درملوګ) په لاس کې دی. د کمېسیون چارواکي یوازې هغه څه خلکو ته وایي چې درملوګ یې په اړه وروستۍ پرېکړه کوي. په دې ډول زموږ د ټاکنو پایلې د کورني فساد، درغلۍ، بهرنۍ دسیسې او د کمېسیون د بې کفایتۍ له امله ځنډېږي او ښایي موږ یو بل کړکېچ ته بوځي.

## د هورمز تنګی ولې نړۍ ته مهم دی؟

لیکنه: زیرک یوسفي



د هورمز تنګی یوه سمندریزه نړۍ لیکه ده چې په منځني ختیځ کې د نفتو د لېږد رالېږد اصلي لاره جوړوي. دغه تنګی د فارس خلیج هیوادونه لکه بحرین او کویټ د هند له سمندر سره نښلوي. د هرمز تنګی د نړۍ ډېرې وګړي چې د آسیا او ختیځې افریقا د سواحلو څنډې ته اوسېږي، له منځني ختیځ سره یوځای کوي. د نفتو له کشف څخه لا ډېر مخکې دا تنګی د نړۍ د مغزو شریان (رګ) یادېده. که چیرې د نړۍ په بله هره سیمه کې دغه ډول جریان پرېکړل شي، نړۍ به خپل نورمال ژوندانه ته ادامه ورکړای شي، خو د دې تنګی تړل کیدل کیدای شي وژونکې پایلې ولري. له خلیج څخه ۹۰ سلنه نفت او تیل صادرېږي او د نړۍ سلنه نفت بیا د هرمز له تنګي له لارې لېږدول کیږي. د ورځې په منځنۍ کچه له دغه تنګي څخه نړیوالو بازارونو ته له ۱۵ میلیونو بیرلو څخه زیات د سعودي عربستان، عراق، ایران، کویټ، بحرین، قطر او متحده عربي اماراتو تولید شوي نفت تیرېږي چې اروپا، امریکا، چین، جاپان او هند ته صادرېږي.

د هرمز تنګی، له تر ټولو په تنګې برخې کې ۳۳ کیلومتره پراخوالی لري چې د نړیوالو زبرځواکونو په تیره د امریکا او لوېدیځې اروپا تر تمرکز لاندې دی او په دغه سمندریزه سیمه کې هر ډول پوځي لاسوهنه د نړۍ اقتصاد ته ستر تهدید هم پیښولی شي. د تنګي یوې خوا ته ایران او بل لوري ته یې عمان هیوادونه پراته دي او سعودي عربستان هم ورته نږدې دی. د تنګي په سویلي خوا کې په عمان هیواد پورې اړونده سیمه کې چې موساندام نومیږي، د عربي راډیوګانو تر څنګ، ایراني راډیوګانې هم اوریدل کیږي. د تنګي په ځینو ساحلي سیمو کې رطوبت، تودوخه او تود باد دومره ډېر دی چې اوسیدل پکې ناشوني دي. په ځینو غرنیو ساحو کې بیا داسې درې او سیمې شته چې لږ خلک پکې اوسیږي. سره له دې چې فارس یا ایران د دغه تنګي د مالکیت دعوی لري، خو هېڅکله هم ټول د هرمز تنګی یو هیواد یا یوې ډلې تر خپل کنټرول لاندې نه دی راوستلی. د ځینو ټاپوګانو پر سر د عربي متحده اماراتو او ایران ترمنځ اختلاف لا اوس هم شته. د موساندام، شحوح غرونو اوسیدونکي او ظهوري کب نیوونکي له تاریخي پلوه له مسقط څخه کورواکه یا خودمختاره پاتې شوي دي.

که چیرې په دغه سمندري تنګي کې هر ډول ګواښ او تهدید رامنځته کیږي، نو په شمال یا د فارس په خوا کې ایران هم د بېړیو د لېږد په برخه کې له نورو اړوندو خواوو زیانمن کیدای شي. د ایران د نفتو ترمینل د لاراک په جزیره او د هرمز په تنګي کې هغه مهال جوړ شول، چې عراق له ایران سره د جګړې پر مهال د خارګ پر تاسیساتو چې په خلیج کې دننه دي، برید وکړ. هرمز ته په نږدې سیمو کې ډېر قومي او ژبني لږکي اوسیږي. د لاراک، هرمز، د قشم جزیره او دغه راز د فارس خلیج په سواحلي سیمو کې فارسي او سني عربان په ګډه ژوند کوي. دا هغه سني عربان دي چې د عربو له جزیرې څخه د سمندري سرحداتو له ټاکلو مخکې رامهاجر شوي دي او له ایراني وګړو څخه توپیر لري. بلوچان هم په نږدې غرونو کې اوسیږي او د جندالله سني بلوچي بیلتون غوښتونکې ډلې څو ځله پر ایراني اهدافو بریدونه کړي دي، چې د ۲۰۰۹ ز کال هغه یې خونړی برید و، چې ۱۵ تنه د انقلابي ځواک غړي پکې ووژل شول. په دې تنګي کې چې د یو ځانګړي قدرت تر کنټرول لاندې نه دی، د نړیوالې سوداګرۍ تضمینول ډېر مهم دي.

له تاریخي پلوه نړیوالو هڅه کړې ده چې دغه تنګي په بشپړه توګه د یو هیواد تر ولکې لاندې رانه شي. په ۱۹۸۷ ز کال کې، متحده ایالاتو د عراق- ایران د جګړې په ترڅ کې مداخله وکړه، څو کویټي بېړۍ له بریدونو خوندي وساتي. په ۱۹۸۸ ز کال کې متحده ایالاتو د ایران یوه جنګي بېړۍ او ګزمه کوونکې کوچنۍ کښتۍ په اوبو کې ډوبې کړې. یو څو کاله وروسته، بیا متحده ایالاتو د خلیج جګړه پیل کړه څو د کویټ له نیولو څخه عراق راوګرځوي. ایران له تاریخ زده کړه وکړه او په دې فکر کې شو چې اغېزمنه تګلاره دا ده چې په مذاکراتو کې قوي دریځ ولري، بندیزونه له ځانه لرې کړي او دغه تګلاره هغه وخت پلې کېدونکې ده، چې له مستقیمې شخړې څخه ځان وساتي او له سیاسي چلونو څخه ګټه واخلي. نو له همدې امله یې د خلیج په جګړه کې ظاهراً ځان بې پلوه راڅرګند کړ، خو د هرمز په تنګي کې یې د یو ګواښ په توګه لا هم خپل مزاحمت ته دوام ورکړ. آن تر همدا اوسه هم ایران کوچنۍ جنګي بېړۍ د لویو نفتي او کانتینري بېړیو د وېرولو او ګواښلو لپاره د هرمز تنګي ته لیږي.

په هرمز تنګي کې له ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ ز کلونو څخه راپېدېخوا ګواښونه او خطرات ډېر لوړ دي؛ ځکه د بېړیو تقابل کیدای شي د ایران او امریکا ترمنځ پر یوې بشپړې مستقیمې او حتي اټومي جګړې بدل شي. له تاریخي پلوه په دې تنګي کې نورې پېښې هم تر سره شوې دي. د ۱۹۸۸ ز کال د جولای په میاشت کې له یوې امریکایي بېړۍ څخه د ایران یوه مسافروړونکې الوتکه چې دبۍ ته پر لاره وه، وویشتل شوه او ۲۹۰ کسان پکې ووژل شول، واشنګټن دا یوه تصادفي او ایران یوه قصدي پېښه وګڼله. په ۲۰۰۸ ز کال کې امریکایانو وویل چې ایرانیانو د دوی درې جنګي بېړۍ ګواښلې دي. د ۲۰۱۰ ز کال د جولای په میاشت کې د جاپان په تېلو بار د ایم سټار په نامه بېړۍ تر برید لاندې راغله او په القاعدې پورې تړلې د عبدالله عزام په نوم یوې ډلې یې مسوولیت پر غاړه واخیست. په ۲۰۱۲ ز کال کې ایران ګواښ وکړ چې د امریکا او اروپایي ټولنې د بندیزونو له امله به د هرمز تنګی وتړي. د ۲۰۱۵ ز کال په مې میاشت کې د ایران پوځي کښتیو یوه بېړۍ چې د اندونیزیا تر بیرغ لاندې یې کار کاوه، ډزې یې ورباندې وکړې او توقیف یې کړه. په ۲۰۱۷ ز کال کې بیا حسن روحاني وویل چې که امریکا د ایران د تیلو پر صادراتو بندیزونو لګولو ته ادامه ورکړي، دوی ممکن د هرمز تنګی وتړي. په ۲۰۱۹ ز کال کې هم د سعودي عربستان دوې د تېلو لېږدوونکې بېړۍ د فیجره په سواحلو کې چې د نړۍ تر ټولو لوی سوداګریز بندر دی، تر برید لاندې راغلې.

پورته موضوعاتو ته په کتو سره ویلای شو چې د هرمز تنګی په لومړي سر کې د نړۍ لپاره له اقتصادي پلوه ډېر مهم دی، ځکه د نفتو او تېلو د انتقال مهمه لاره ده. څرنګه چې اقتصادي مسایل له سیاسي او پوځي هغو سره نیغ په نیغه اړیکه لري، نو دغه سمندري تنګی له سیاسي او پوځي نظره هم پر یوې ستراتیژیکې نقطې بدل شوی دی. ایران یې د تهدید په توګه کاروي، له نړیوالو سره یې په مذاکراتو کې د امتیاز غوښتنې یوه مهمه موضوع ګرځولې ده او د امریکا شتون په بحرین کې دې ته لاره هواره کړې ده، چې د ایران تحرکات مهار کړي. له بل پلوه په سیمه کې د عمان، ایران او متحده عربي اماراتو ترمنځ لا هم سرحدي لانجې شته. خو په لنډه توګه باید ووایو چې د ایران او امریکا ترمنځ د رواني شخړې په بهیر کې او دا چې دا شخړه د ټرمپ لخوا تر هستوي هوکړې وروسته لا هم شدیده شوې ده، ایران به هڅه ونه کړي چې د هرمز تنګی بشپړ بند کړي او یا پکې ترانسپورټي کښتیو ته لوی ګواښ پیښ کړي، خو د فشار د وسیلې په توګه به ورڅخه هر وخت کار اخلي.


## ولایتي شورا: طالبان هڅه کوي چې د سمنګان د دره صوف کانونه تر خپل کنټرول لاندې راولي

په سمنګان ولایت کې د طالب وسله والو د فعالیت د زیاتوالي له امله، په ډېری ولسوالیو کې دولتي ادارې بندې دي او دوی هڅه کوي چې د دره صوف ولسوالۍ د ډبرو سکرو د کانونو کنټرول هم خپل کړي.

د سمنګان د ولایتي شورا استازي ادعا کوي چې د طالب وسله والو د فعالیت له امله، د دغه ولایت په پنځو ولسوالیو کې دولتي ادارې غیرفعالې دي او دولتي مامورین د هغوی پر وړاندې د شته امنیتي ګواښونو له امله، خپلو دندو ته نه حاضرېږي.

د سمنګان د ولایتي شورا مشر حاجي راز محمد ازادي راډیو ته ویلي، طالبان د دغه ولایت پر ۸۵ سلنه خاوره حاکمیت لري.

نوموړي ویلي: «د ولایت او ولسوالیو وضعیت ښه نه دی، د دره صوف بالا او پاین او همدا راز د روی دو آب ولسوالیو لارې بندې دي. دولتي ادارې په دغه ولسوالیو کې فعالې نه دي، ځکه په له ۸۵ تر ۹۰ سلنه خاوره کې طالبان واکمن دي او دوی په حضرت سلطان او خرم و سارباغ کې هم شته دي».



حاجي راز محمد زیاته کړې چې د سمنګان له مرکز ایبک ښار سره د ولسوالیو پر مواصلاتي لارو د ناامنۍ له امله، طالبان له دره صوف ولسوالۍ څخه بلخ او نورو ولایتونو ته د ډبرو سکرو د لېږد له ګاډو غیرقانوني پیسې راټولوي.

د سمنګان د ولایتي شورا د مشر په خبره، له دره صوف ولسوالۍ څخه د سمنګان مرکز او بلخ ولایت ته په ورځ کې ۳۰۰ ګاډي د ډبرو سکاره لېږدوي چې طالبان په هر ځل له هر ګاډي ځلور زره افغانۍ باج اخلي.

هغه زیاته کړې: «هغه پوستې چې د لارو په اوږدو کې وې، اوس دولت پورته کړې دي، طالبان د ډبرو سکرو د لېږد له ګاډو ۴۰۰۰ افغانۍ اخلي، پخوا یې په میاشت کې ۷ زره افغانۍ اخیستې، خو اوس په ورځ کې ۴۰۰۰ باج اخلي».

د ولایتي شورا د استازو د ادعاوو پر بنسټ، طالبان هره میاشت د سمنګان ولایت د دره صوف ولسوالۍ د ډبرو سکرو د لېږد له کاروانونو ۳۶ میلیونه افغانۍ تر لاسه کوي.

په ورته وخت کې د سمنګان والي عبدالطیف ابراهیمي هم له ازادي راډیو سره په خبرو کې د سمنګان د ډبرو سکرو د لېږد له کاروانونو څخه د طالبانو د باج اخیستنې موضوع تایید کړې ده.

هغه ویلي چې طالبان په دې هڅه کې دي چې د دره صوف ولسوالۍ د ډبرو سکرو د کانونو د رایستلو کنټرول خپل کړي.


ابراهیمي زیاته کړې: «د هغوی موخې د ډبرو سکرو له کاروانونو څخه باج اخیستل دي او غواړي چې په دره صوف ولسوالیو کې د ډبر سکرو د کانونو د کیندنې چارې خپلې کړي».

سره له دې چې د سمنګان ولایتي شورا حکومتي چارواکي د دغه ولایت د ډبرو سکرو د لېږد له لارې د امنیت په خوندي ساتلو کې پر بې پروایۍ تورنوي، خو د سمنګان والي عبدالطیف ابراهیمي ډاډ ورکوي چې ډېر ژر به په دره صوف ولسوالۍ او د سمنګان- بلخ پر لویه لار به د طالبانو د ځپلو په هدف پوځي عملیات تر سره کړي.

د یادونې ده چې تر دې پخوا طالب ویاند ذبیح الله مجاهد ازادي راډیو ته تایید کړې وه، چې د یادې ډلې غړي د سمنګان د ډبرو سکرو د لېږد لارې د امنیت خوندي ساتلو لپاره مالیه ټولوي.

# د مرکزي حکومت چوپتیا؛

## پاکستاني عسکرو په ګومل کې د افغانستان کانونه او ځنګلونه لاندې کړي دي



پاکستان په پکتیکا کې د افغانستان کانونه او طبعي ځنګلونه لاندې کړي دي. د راپورونو له مخې، پاکستاني عسکرو له څه مودې راهیسې په پکتیکا کې د اغزن سیم لګول پیل کړي دي چې په دې لړ کې یې د جلغوزیو یو ستر ځنګل او د کرومایټو یو مهم کان هم لاندې کړی دی. دغه کان او ځنګل تر ډیورنډ فرضي کرښې دې لورې ته دي، خو پاکستاني پوځیانو لاندې کړي دي. د پکتیکا قومي مشران او ځایي اوسېدونکي له حکومته غواړي چې په دې اړه غبرګون وښیي.

وروسته له هغه چې پاکستان پر ډیورنډ فرضي کرښه غیر قانوني اقدامات پیل کړل، د افغان خاورې ډېره برخه یې تر اغزن سیم لاندې کړه. دوی په ډېرو سیمو کې له صفري نقطې را اوښتي دي، تاسیسات یې جوړ کړي دي، اغزن سیم یې تېر کړی دی، د خلکو ځمکې یې لاندې کړې دي، لارې ګودرې یې بندې کړې دي او ان له افغان ځواکونو او ځایي اوسېدونکو سره یې مخامخ جګړې کړې دي. تازه له پکتیکا ولایته راپورونه وایي چې پاکستاني ځواکونو د دغه ولایت په ګومل ولسوالۍ کې د کرومایټ ډېرو یو مهم کان او د جلغوزیو یو ستر ځنګل لاندې او اغزن سیم یې ترې چاپېر کړی دی.

په ولسي جرګه کې د پکتیکا او پکتیا ولایت استازي نیوکه کوي، چې د ملي یووالي حکومت په دوره کې د ډیورند کرښې په اوږدو کې د پاکستان تحرکات ډېر شوي او د افغانستان خاوره ډېره پاکستان لاندې کړې، خو افغان حکومت یې پر وړاندې چوپتیا غوره کړې ده. د پکتیکا پخواني چارواکي او قومي مشران هم وایي چې پاکستاني پوځیانو د پکتیکا ګومل ولسوالۍ اړوند، د ترخې اوبه او وچ غر هغو سیمو کې اغزن تار غځوي، چې هلته د کرومایټو کان او د جلغوزو غر چې هر کال یې حاصلات میلیونونه افغانۍ کیږي، موجود دي.

دوی وایي چې پاکستان له پخواني ټاکل شوي حد څو برابره وړاندې راغلی او ډېرې سیمې یې تازه لاندې کړې دي، چې د جلغوزو غر او کرومایټو کان هم پکې شامل دي. د پکتیکا پخوانی والي محب صمیم وایي: ((پاکستانی پوځ له پخوانیو حدودو څو برابره مخ ته راغلی دی. دلته یې تاسیسات جوړ کړي دي. کانونه او د جلغوزیو ځنګلونه یې لاندې کړي دي)).

د ګومل ولسوالۍ په وچ غر سیمه کې پاکستاني پوځیانو له تېرو لسو ورځو راهیسې د اغزن تار غځولو چارې بیرته پیل کړې او د جلغوزو غر او کرومایټو کان لویه برخه پاکستاني لوري ته پاتې ده، چې تر دې مهاله یې په تړاو افغان حکومت هېڅ ډول اقدام نه دی کړی.

په ورته وخت کې په ولسي جرګه کې د پکتیکا او پکتیا ولایت استازي نیوکه کوي، چې د ملي یووالي حکومت په رامنځ ته کېدو سره پاکستان څو کیلومتره د افغانستان خاوره لاندې کړه، خو افغان حکومت یې په تړاو چوپ پاتې دی. د ولسي جرګې غړی خالد اسد وایي، حکومت باید چوپتیا ماته کړي او د دغو دوو مهمو سیمو په اړه دې اقدام وکړي. د ده په خبره، دا د افغانستان خاوره ده او حکومت د قوانینو له مخې اړ دی چې له هر لوېشت خاورې دفاع وکړي.

په ګومل کې د پاکستاني عسکرو تازه غیر قانوني کړنې داسې مهال دي، چې د دغه هېواد پوځ وایي، پر ډیورنډ کرښه یې د اغزن تار لګولو کار مخ پر بشپړېدو دی. افغان حکومت د پاکستان پر دغه غیر قانوني اقدام تر دې دمه هېڅ راز واضح او اغېزناک غبرګون نه دی ښودلی. سره له دې چې پاکستان په ځینو مواردو کې له افغان پوځ سره مخامخ نښته هم کوي او مرکزي حکومت په دې تړاو جدي غبرګون نه ښیي. څو ورځې وړاندې هم په کونړ کې د افغان ځواکونو او پاکستاني عسکرو ترمنځ د اغزن تار د لګولو پر سر جګړه شوې وه. تر دې وړاندې په کندهار، خوست، ننګرهار او کونړ کې ورته نښتې شوې دي. ډیورنډ هغه فرضي کرښه ده چې هېڅ افغان ته د منلو نه ده، خو پاکستان تل پر دغه فرضي کرښه د رسمي پولې په څېر اقدامات کوي، چې د عامو افغانانو توند غبرګون یې پارولی دی.

## ارګ: په بهرنیو چارو وزارت کې باید جدي اصلاحات راوستل شي



د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي ویلي چې ولسمشر غني د بهرنیو چارو وزارت له سرپرست ادریس زمان سره لیدلي او په دغه وزارت کې یې د عاجلو اصلاحاتو پر راوستو ټینګار کړی دی.

صدیقي د بهرنیو چارو وزارت لپاره د نوي ویاند ګران هېواد د پېژندلو په غونډه کې ویلي: «ولسمشر غني په دې تاکید کوي چې د بهرني سیاست د پلي کوونکي په توګه دې دا وزارت د بهرنیو اړیکو او سیمه ییزو-اقتصادي همکاریو د زیاتولو لپاره د افغانستان ستراتېژیک او اوږدمهال لیدلوري پلانونه پر مخ بوځي».

صدیقي دغه راز زیاته کړې چې ولسمشر د وزارت له سرپرست څخه غوښتي چې د وزارت د فعالیت لپاره دې د لوایحو او څرنګوالي د برخې جوړولو په هکله جدي اقدامات وکړي.

د سرچینې په خبره، ولسمشر غني دغه راز د ډیپلوماتانو په ګومارلو کې د سمو او منل شویو معیارونو پر مشخص کولو ټینګار کړی او ویلي دي چې ډیپلوماتان او د بهرنیو چارو وزارت مامورین دې باید د وړتیا او استعداد په اساس وګومارل شي.

ولسمشر غني داسې مهال د افغانستان د بهرنیو چارو په وزارت کې د اصلاحاتو پر راوستو ټینګار کوي، چې څه موده مخکې د دغه وزارت سرپرست صلاح الدین رباني له دندې استعفا وکړه.

هغه په خپل استعفا لیک کې لیکلي وو: «اوس چې د ملي وحدت د حکومت کاري موده ختمه شوې او په اوسنیو حساسو شرایطو کې تر بل هر وخت پیوستون او نږدیوالي ته ډېر ضرورت دی، د هغوی له لوري چې د دولت سازۍ ادعا لري، په بېلابېلو ډولونو د دولتي ادارو تخریب د پېلو او منلو نه دی».

د رباني تر استعفا مخکې، ارګ پاکستان ته د طالبانو د یو پلاوي د سفر په اړه د بهرنیو چارو وزارت ویاند صبغت الله احمدي د نامسوولانه څرګندونو له کبله له دندې لرې کړی و. تر دې مخکې د فساد پر ضد د ارزیابۍ او نظارت کمېټې هم د بهرنیو چارو وزارت پر اداري فساد تورن کړی و او د اداري اصلاحاتو کمېسیون بیا ویلي وو چې دغه وزارت ورسره همکاري نه کوي.

په یو بل اقدام کې د بهرنیو چارو وزارت مرستیالې ناهید ایثار ته چې ولسشمر غني ګومارلې وه، په وزارت کې ورته د کار اجازه نه وه ورکړل شوې.

## ټاکنو کمېسیون: نن به په ولایتونو کې د رایو د بیاشمېرنې بهیر پیل شي



د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، په ولایتونو کې د ولسمشریزو ټاکنو د رایو بیاشمېرنې بهیر پیلوي.

دغه کمېسیون ته د درملوګ کمپنۍ له خوا د معتبرو رایو د کره شمېرې له ورکړې وروسته، اوس یاد کمېسیون په ولایتونو کې د رایو بیاشمېرنه پیلوي.

د دغه کمېسیون غړې رحیمې ظریفي ازادي راډیو ته ویلي چې د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې به د رایو بیاشمېرنه او د تفتیش بهیر د دوشنبې په ورځ(نن) په عملي ډول پیل شي.

هغې ویلي: «ولایتونو ته زموږ د کار کوونکو سفر پیلېږي او په ولایتونو کې د رایې شمېرنې بهیر د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون سره په مشوره، هغه محلونه او مرکزونه چې بیاشمېرنې او تفتیش ته یې اړتیا ده، باید دا پروسه پرې عملي شي».

دا په داسې حال کې ده چې یاد کمېسیون ته ورمه ورځ درملوګ کمپنۍ یو میلیون اته سوه او ۴۳ زره بایومټریک رایې په نښه کړې چې معتبرې دي او همدا ډول په دې شمېرو کې ۸٦ زره نورې بې باوره رایې ګڼل شوې دي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، د هغو رایه ورکوونکو په اړه د وروستیو معلوماتو پر راټولولو بوخت دي چې د درملوګ شرکت له خوا دوی ته په ورکړل شوي راپور کې په نښه شوي او د دې جمع بندیو وروستۍ پایلې به تر دریو نورو ورځو پورې له خلکو سره شریکې کړي.

بل لور ته د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ویلي، د دوی له خوا د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته د ۱۸ سوه محلونو اسناد ورسپارل شوي، چې رایې یې باید له سره وشمېرل وشي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون په ټولو ولایتونو کې د تفتیش او بیاشمېرنې د بهیر د بشپړولو لپاره درې ورځې په پام کې نیولې دي.

په ورته وخت کې د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ اجرایه رییس یوسف رشید د دې مودې په اړه ازادي راډیو ته ویلي: «که چېرې وضعیت سم مدیریت نه شي، د هوا د خرابوالي، د سفرونو ځنډ او تر خوا یې د بېرته راتګ په برخه کې پلمې ولټول شي، بیا به کمېسیون ونه شي کولی د عقرب په ۲۳مه لومړنۍ پایلې اعلان کړي». د یادونې ده چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون تر دې مهاله دوه ځلې د لومړنیو پایلو اعلان ځنډولی او طرزالعمل یې مات کړی دی. خو کمېسیون په خپله وروستۍ ژمنه کې ویلي چې لومړنۍ پایلې به د لړم په ۲۳مه اعلان کړي.

## مانافورټ: د ډیموکراټانو د کمپیوټرونو پر سرورونو روسیې نه، بلکې اوکراین برید کړی و



د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ د کمپاین پخواني مشر پاول مانافورټ خپله پخوانۍ خبره بیا تکرار کړې، چې د ډیموکراټانو د کمپیوټرونو پر سرورونو روسیې نه، بلکې اوکراین انټرنېټي برید کړی و. هغه دغه خبره په ۲۰۱٦ ز کال کې هم کړې وه. د نویو اسنادو له مخې، د امریکا د متحده ایالتونو د ولسمشر ډونالډ ټرمپ د کمپاین پخواني مشر یو وار بیا ویلي چې د ډیموکراټانو د ملي کمېټې د کمپیوټرونو سرور روسیې نه، بلکې اوکراین هک کړی و.

د تازه خپرو شویو اسنادو له مخې، د ولسمشر ټرمپ د کمپاین مرستیال مدیر ریک ګېټس د مانافورټ د دې تیورۍ په اړه د امریکا د څېړنو فېډرال ادارې یا (FBI) ته په خپلو مرکو کې معلومات ورکړي وو.

دغه مرکې د پخواني ځانګړي څارنوال رابرټ مولر د څېړنو په لړ کې شوې دي.

مولر د امریکا د ۲۰۱٦ ز کال د ولسمشرۍ په ټاکنو کې د روسیې د لاسوهنې په اړه څېړنه کړې ده. د امریکا عدلیې وزارت د مولر د څېړنو په اړه د مرکو، ایمیلونو او نورو اسنادو دغه خلاصه په ۵۰۰ مخونو کې خپره کړې ده.

دغه نوي معلومات د دې ښکارندویي کوي چې د ټرمپ په ټیم کې دننه او له ټیمه بهر خلکو ډېر مخکې د اوکراین د رول په اړه نظر ورکړی و. داسې ښکاري چې دغه نوي خپاره شوي معلومات ښایي د مولر نوې بشپړه شوې پلټنه او د استازو جرګې هغه هڅې سره وتړي، چې د ولسمشر ټرمپ د استیضاح کولو پر څېړنې پیل شوې دي. ځانګړي څارنوال رابرټ مولر په خپل راپور کې چې په اپرېل کې خپور شو، دا پایله وړاندې کړې چې روسیې د ډونالډ ټرمپ په ګټه د امریکا د ۲۰۱٦ ز کال د ولسمشریزو ټاکنو د منحرف کولو لپاره پراخه او سیستماټیکه هڅه کړې وه. راپور ویلي، په دې لړ کې د غلطو معلوماتو خپرولو لپاره د ډیموکراټ ګوند د چارواکو له هک شویو ایمیلونو او ټولنیزو رسنیو استفاده شوې ده.

بلخوا مسکو د امریکا په ولسمشریزو ټاکنو کې د لاسوهنې ادعا رد کړې او ولسمشر ټرمپ هم ویلي چې له روسانو سره یې کوم جوړجاړی نه و کړی.

که څه هم ولسمشر ټرمپ له مسکو سره د اړیکو ښه کولو په اړه خبرې کړې او د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین یې ستایلی، خو واشنګټن بیا هم د امریکا د ولسمشریزو ټاکنو په کمپاین کې د روسیې د لاسوهنې د ادعاوو په تړاو، پر مسکو ځینې بندیزونه لګولي دي.

اوس چې ولسمشر ټرمپ واک ته رسېدلی او دا نظریه وړاندې کېږي چې د روسیې په نسبت اوکراین د امریکا په ټاکنو کې زیات دخیل و، ښایي د ولسمشر ټرمپ د استیضاح لپاره له پیل شوو څېړنو سره نوره مرسته هم وکړي.

ډیموکراټانو ټرمپ تورن کړی چې له اوکراین څخه یې غوښتي چې د ډیموکراټ ګوند د کاندید جوبایډن او د هغه د زوی هنټر په اړه چې په اوکراین کې یې تجارتونه درلودل، پلټنه وکړي.

ډیموکراټان وایي، ولسمشر ټرمپ خبرداری ورکړی چې د پلټنې نه کولو په صورت کې به پر اوکراین تصویب شوې پوځي مرسته ځنډوي.

## د کتــاب خبـرې

# پښتانه


## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق
◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**دوهمه برخه**

**پاکستان**

### شپږم څپرکی
### پښتونخوا د ترهګرۍ په لومه کې




د سرې جګړې پر مهال د امریکا متحدو ایالتونو او لوېدیځ سیاسي ملاتړ او مالي مرستو لا هم د پوځ واک ته لاره اواره کړه، خو کله ناکله به د پوځ او واشنګټن تر منځ هم اړیکې ترینګلې کېدې، ځکه واشنګټن اسلاماباد ته د خپل ملګري په سترګه کتل، د هغوی پر ځینو مسائلو به یې نیوکې کولې، د بېلګې په توګه، د پاکستان د اټومي وسلو چاره یې د لانجې یو اړخ و. د ملګرتیا نوی څپرکی بیا هغه مهال پیل شو چې د امریکا پر خاوره د ۲۰۰۱ز کال په سپټمبر کې بریدونه وشول، جنرال پرویز مشرف له امریکایي جګړهییزو اهدافو سره د ملګرتیا اعلان وکړ، خو د پردې تر شا ISI لا هم د طالبانو ملاتړ کاوه، غوښتل یې چې هغوی یو ځل بیا په کابل کې واک ته ورسېږي.

کله چې په افغانستان کې د یاغیانو جګړو زور واخیست، اسلاماباد او واشنګټن یو ډول نیابتي جګړې ته ور وړاندې شول. امریکا او ملګرو هېوادونو یې د حامد کرزي د حکومت د ملاتړ لپاره نور پوځیان هم افغانستان ته ولېږل. په پاکستان کې یې طالب ضد ډلې هڅولې. پاکستان د طالبانو مشرانو ته خوندي ځایونه ورکړي وو او په سرحد یې د جګړې لپاره تګ راتګ ته اجازه ورکړې وه.

د پاکستان د پوځ واک یوازې تر امنیتي او سیاسي چارو پورې محدود نه دی. د لسیزو واک په ترڅ کې، پوځ د یوه سوداګریز شرکت یا لاربنود په څېر امپراتوري جوړه کړې چې جنرالان یې پکې د پیسو، قدرت او نورو امتیازونو برخمن دي. د امنیت د برخې د یوې څېړونکې، عایشه صدیقي په وینا، پوځ داسې امپراتوري جوړه کړې چې یوازې د (۱۰) میلیارده په ارزښت شتمني لري، له دې ډلې یې (۵) میلیونه هېکتاره ځمکه ده. هغه وایي چې د پوځ اقتصادي منګولې د کرنې، تولید، خدمتونو په شمول د اقتصاد ټولو سکتورونو ته رسېږي. هغې راته وویل:

((پوځ د هېواد د اقتصاد لویه برخه پر ځان لګوي.)) بهرنۍ مرستې هم مستقیمې پوځ ته ځي. له ۲۰۰۱ز کال وروسته چې واشنګټن له اسلاماباد سره ۲۰ میلیارده مرسته کړې، هغه هم د پوځ صندوقونو ته تللې. د پوځ او نورو برخو تر منځ د امتیازونو په برخه کې لوی توپیر تل د اصلاحاتو پر وړاندې لوی خنډ شوی. د پاکستان له هېڅ پوځي زورواکي حساب نه دی غوښتل شوی. پوځ له ملي بودیجې څخه ۲۵٪ پر ځان لګوي. په اړه یې ملکي اداري ته هېڅ معلومات نه ورکوي.

کله چې اسلاماباد په ۱۹۸۰ز لسیزه کې له لوېدیځ سره په افغانستان کې د پخواني شوروي پر ضد جګړه کې ملګرتیا پیل کړه، په کور د ننه د پوځ په برخه کې پراخ بدلونونه راغلل. پاکستاني پوځ او نورو امنیتي ادارو په پاکستان کې د برېټانوي امپراتور پوځ ځینې خصوصیتونه په میراث اخیستي دي. لوی مالي چکونه او بودیجې د داخلي کلتور د نظم یوه برخه ده. دا هرڅه هغه وخت بدل شول چې زورواکي جنرال ضیاء الحق ډېر داسې اسلامي قوانین معرفي کړل چې له مخې یې د عامو خلکو ژوند ته بدلون ورکړ. هغه له ټولې نړۍ څخه اسلام پال وهڅول چې د افغانستان له جهاد سره یو ځای شي.

خو د پوځ داخلي کلتور د اسلامپالنې له دې پروسې سره هېڅ بدلون ونه کړ. یوازې دومره چې د پوځ شعار په (اسلامي عقیده، تقوا او د الله ج په لاره کې پر جهاد) بدل شو. په پوځ کې د اسلامي عقیدې د پیاوړتیا پروسه بیروکراسۍ ته وسپارل شوه. د پوځ په نظامي اډو کې لوی مسجدونه جوړ شول او د امامت لپاره علماء ورته استخدام شول. د پوځ د حیثیت په خاطر افسرانو او سرتېرو په ګوندونو کې ونډه نه اخیسته، خو له اسلامي ډلو سره یې خپلې اړیکې ساتلې.

دا داخلي بدلون د پوځ د ستراتېژیکو تګلارو په پایله کې راغی. د پوځ اصلي اداره له پوځي پلوه سیاستوالو، بیروکراټانو، قاضیانو او جنرالانو څخه جوړه وه. پوځ په ۱۹۷۱ز کال د اسلام پالو نیابتي ډلو د ملاتړ ستراتیژي جوړه کړه چې په پایله کې یې د پاکستان له ختیځ څخه بنګلدېش بېل شو. په ۱۹۸۰ز لسیزه کې د افغان مجاهدینو بریا پاکستان وهڅاوه چې ورته موډل په ۱۹۹۰ز لسیزه په کشمیر کې و ازمویي. پوځ په کورني سیاست کې اسلامي ګوندونو ته هم لویه برخه ورکړه. په افغانستان او پاکستان کې د پښتنو سیمې د جهادیانو په پټنځایونو او استخدام ځایونو بدلې شوې. د دې ډول تګلارو په پایله کې پر شیعه وګړو د سني افراطیانو بریدونه زیات شول. افراطیانو به ویل چې هغوی په ۱۹۷۹ز کال په ایران کې د شیعه وګړو د انقلاب په څېر له کوم بل ګواښ څخه وېره لرله.

د ۲۰۰۱ز کال د سپټمبر له ۱۱مې وروسته، د پاکستان پوځ نابېره اړ شو، د هغو افراطیانو پر وړاندې به جنګ کوي چې د دوی پر لاس رامنځ ته شوي وو. مشرف په یوه رسمي وینا کې پر ډېرو هغو ترهګریزو سازمانونو بندیزونه ولګول چې په ۱۹۹۰ز لسیزه کې د نوموړي استخباراتو راوستي وو، خو د هغه له وینا سره هېڅ هم بدل نه شول، یوازې دومره چې دې سازمانونو خپل نومونه او ځایونه بدل کړل. له یوې خوا پاکستان د افغان طالبانو کوربه و، بل لور ته یې د پاکستاني طالبانو د راپورته کېدو مخه هم ونشواې نیوی. په عیني وخت کې پاکستاني پوځ له واشنګټن سره د ځینو القاعده مشرانو په نیولو او وژلو کې مرسته کوله.

**دوام لري...**

# میکرونیزیا

حشمت نوري



میکرونیزیا په اوقیانوسیه کې د شمالي ارام سمندر په لوېدیځه خوا کې د پالوو د ټاپوګانو ختیځې خوا ته د ګوام د ټاپو په جنوب لوېدیځ لور کې، د ختیځ طول البلدونو د ۱۵۸ او ۱۵۹ درجو او د شمالي عرض البلدونو د ٦ او ۸ درجو ترمنځ موقعیت لري، چې پراخوالی یې څه باندې ۲۷۰ کیلومتره ته رسېږي.

دغه هېواد په وچه کې له کوم بل هېواد سره ګډه پوله نه لري او په سمندر کې له لاندې ټاپوګانو سره ګډه پوله لري:

ختیځ ته یې د مارشال ټاپو، لوېدیځ ته یې د پالوو ټاپو، شمال ته یې د ماریانا ټاپو او جنوب ته یې پاپوانیوګیني ټاپو پروت دی.

میکرونیزیا د استوا کرښې ته نږدې پروت دی، ځکه خو یې هوا توده او د ارام سمندر له اوبو سره د ګاونډیتوب له امله ډېره لنده ده. په دغه ټول هېواد په تېره بیا په ختیځو ټاپوګانو کې ټول کال اورښت کېږي. دغه هېواد د سمندري توپانونو د کرښې په جنوبي څنډه کې موقعیت لري او له دې امله کله کله ډېر درانده زیانونه ګالي.

د دغه هېواد پلازمېنه د پالیکر ښار دی او د نفوس شمېر یې ۱۰۰ زرو کسانو ته رسېږي چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۱۵۸ کسان ژوند کوي.

د میکرونیزیا ۳۰ سلنه وګړي په ښارونو او ۷۰ سلنه یې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د دریو ماشومانو د درلودو حق لري.

د دغه هېواد رسمي ژبه انګلیسي او لیکدود یې لاتیني دی. میکرونیزیا د اداري وېش له پلوه په څلورو ولایتونو وېشل شوی دی.

د دغه هېواد د حکومت ډول جمهوري او لومړنی اساسي قانون یې د ۱۹۷۹ ز کال د مې په لسمه نافذ شوی دی. دغه هېواد د امریکا له متحده ایالاتو سره د خپلواکو اړیکو یو تړون لري، چې د ۱۹۸٦ ز کال د نومبر په درېیمه یې لاسلیک کړی او په ځینو مواردو کې یې بدلونونه راوستي دي. د میکرونیزیا اوسنی ولسمشر مارتین کریستینا دی چې د لومړي وزیر چارې هم پر مخ بیایي.

د دغه هېواد ولسمشر او د هغه مرستیال د هېواد د ولسي جرګې له خوا، د جرګې د هغو څلورو غړو له منځ څخه ټاکل کېږي، چې د څلورو ولایتونو استازیتوب کوي. د دغه هېواد ولسمشر د قانون له مخې دوه ځلې کار کولای شي.

د میکرونیزیا ولسي جرګه ۱۴ غړي لري چې څلور یې د څلورو ولایتونو د خلکو په خوښه د څلورو کلونو او لس نور یې د نفوس په اندول د خلکو په خوښه د دوو کلونو لپاره ټاکل کېږي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو سن ۱۸ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي.

د میکرونیزیا حقوقي نظام پر هغه قوانینو ولاړ دی چې د قیمومیت لاندې سیمو د اصولو له مخې جوړ شوی دی. ستره محکمه د دغه هېواد تر ټولو لوړ قضایي ارګان دی.

د ۱۹۸٦ ز کال د نومبر په درېیمه یې د ملګرو ملتونو تر قیمومیت لاندې له امریکا څخه خپلواکي واخیسته او هر کال د مې لسمه د خپلواکۍ د ورځ په نوم پکې نمانځل کېږي.

کرنه او کب نیونه د میکرونیزیا د ټاپوګانو د اقتصاد د ملا تیر بلل کېږي. دغه هېواد داسې لږ کانې زېرمې لري چې د ایستلو وړ او اقتصادي وي، لکه فاسفیټ او نور.

دغه هېواد د خپل ښکلي طبیعي جوړښت له امله، د ډېرو سیلانیانو د ورتګ په تمه دی، خو له نورې نړۍ څخه د ډېر لرې والي او د هوایي ډګرونو، پارکونو او هوټلونو د لږوالي له امله کم کسان دغه ورو کې ټاپوییز هېواد ته د ورتګ زړه ښه کوي. په ۱۹۷۹ ز کال کې میکرونیزیا له امریکا سره د خپلواکو اړیکو داسې یو تړون لاسلیک کړ، چې د هغې له مخې به امریکا دغه هېواد ته د ۱۵ کلونو لپاره ۱،۳ بلیون ډالره تخنیکې او مالي مرسته ورکوي. په ۲۰۰۰ ز کال کې د دې مرستې په کلنۍ ورکړه کې ۲۰ سلنه لږوالی راغی، چې یادې مرستې د دغه هېواد ۵۷ سلنه عواید برابرول. د عوایدو کموالي د هېواد اقتصاد له سختو مالي ستونزو سره مخ کړ، خو له امریکا سره د میکرونیزیا د خپلواکو اړیکو په تړون نوې کتنې، امریکا دې ته ژمنه کړه چې تر ۲۰۳۰ ز کال پورې به له دغه هېواد سره مرسته کوي.

د میکرونیزیا ډېر لرې جغرافیایي موقعیت او د اقتصادي بنسټیزو جوړښتونو نشتوالي، دغه هېواد ته اقتصادي زیانونه اړولي دي. اوس اوس یې له نورو هېوادونو سره ښې اړیکې د دې ښکارندویې کوي، چې د دغه هېواد اقتصاد ښه لوري ته روان دی.

سیلانیان، لرګي، ملغلرې، وړۍ، د کبانو پروسس، ساختماني مواد او لاسي کارونه یې مهم صنعتي فکټورونه دي.

د دغه هېواد ۷ سلنه ځمکه د کرلو وړ ده، ۴۴ سلنه یې ځنګلونو او څرځایونو او پاتې نوره یې غرونو، ډبرینو جوړښتونو، غونډیو، ښارونو او د استوګنې کلیوالو سیمو نیولې ده.

تور مرچ، ړدن، خواږه کچالو، د استوایي سیمو مېوې، سابه، غوښه، هګۍ، لبنیات او وابښه د دغه هېواد د کرنې او څارویو مهم محصولات بلل کېږي.

فاسفیټ، سره زر او د سمندر د تل کانې زېرمې چې ایستل یې غټه پانګه او پرمختللي وسایل او ټکنالوژي غواړي، د دغه هېواد مهم کانونه بلل کېږي. جاپان، امریکا، اسټرالیا او چین یې غټ تجارتي شریکان دي.

میکرونیزیا لس هوایي ډګرونه لري چې شپږ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.

د ټیلیفون کود یې ۰۰٦۹۱ او د انټرنېټ کود یې بیا اف ام دی، چې پنځه زره کسان ورته لاسرسی لري.

په دغه هېواد کې ټلوېزیوني خپرونې نشته، خو هر ټاپو داسې کېبل لري چې د نړۍ د سترو شبکو خپرونې پرې کتلای شي. خصوصي سکټور یې بیا لس راډیوګانې لري. پردې سربېره ۷ ورځپاڼې، ۳۵ اونیزې، میاشتنۍ او مهالنۍ لري، چې په بېلابېلو رسمي او انګلیسي ژبه خپرېږي.

په میکرونیزیا کې هر کال تر ۲۰۰ عنوانه نوي کتابونه له چاپه راوځي او هر کال هر سړی په منځنۍ توګه یو کیلوګرام کاغذ د لیکلو، لوستلو او خپرولو لپاره کاروي.

دغه هېواد د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید په حساب، د اسټرالیا او نړۍ په پرمختلونکو هېوادونو کې راځي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته، ۹۵ سلنه خلک په لیک او لوست پوهېږي. په دغه هېواد کې زده کړه له ٦ تر ۱۳ کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره جبري ده.

په میکرونیزیا کې د هوا او چاپېریال ساتنه ښه ده او داسې اسانتیاوې شته، چې له اړو خلکو سره د ناروغتیا، وزګارتیا، زړښت او معلولیت په وخت کې مرستې وکړي.

میکرونیزیا اصل کې یوناني نوم دی او د ډېرو کوچنیو ټاپوګانو مانا ورکوي. مارشال کارولنې او ماریانا ټاپوګان په ستره مانا د میکرونیزیا د ټاپوګانو په ټولګي کې راځي، خو په ځانګړې توګه میکرونیزیا د کارولین د ټاپوګانو یوې برخې ته ویل کېږي. دغه ټاپوګان چې میکرونیزیایي او پولي نیزیایي خلک پکې اوسېدل، په ۱۵۳۱ ز کال کې د اسپانوي فردنیاند له خوا وپېژندل شول. نوموړي پر دغو ټاپوګانو د غلو د ټاپوګانو نوم کېښود، لږ وروسته دغه نوم ماریانا شو. ماریانا هغه وخت د اتریش او اسپانیا ملکه وه او ورو ورو ځینې اسپانویان او اروپایان هلته لاړل او په دغو ټاپوګانو کې یې د سوداګرۍ ترڅنګ، عصري کرنه دود کړه او هلته یې د اسپانیې د دولت اداري پرانیستلې.

په ۱۸۵۵ ز کال کې المانیانو هڅه وکړه چې دغه ټاپوګان ونیسي، خو اسپانویانو د واتیکان او پاپ په مرسته د المانیانو هڅې شنډې کړې او د ماریانا پر ټاپوګانو یې خپله ولکه ټینګه کړه. په ۱۸۸۸ ز کال کې د کوام ټاپو د پاریس تړون له مخې، امریکا ته ورکړل شوه او یو کال وروسته المان دغه ټاپوګان له اسپانیې څخه په بیه واخیستل. په لومړۍ نړیواله جګړه کې جاپاني پوځونو دغه ټاپوګان ونیول او له همدې ځایه یې په پل هابر یرغل وکړ او په دې توګه یې د ارام سمندر ستره او تاریخي جګړه پیل کړه. په دویمه نړیواله جګړه کې د جاپاني پوځونو تر ماتې وروسته، دغه ټاپوګان د امریکا لاس ته ورغلل. د ۱۹۹۴ ز کال د اپرېل په دویمه، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ارام سمندر د قیمومیت سیمه جوړه کړه او د شمالي ماریانا کارولین او ارشال د ټاپوګانو اداره یې د امریکا متحده ایالاتو ته وسپاره. امریکا په سیمه کې یوه ستره پوځي اډه جوړه کړه او د دغو ټاپوګانو د دفاع او بهرنۍ چارې یې په خپل لاس کې واخیستې.

امریکا په ۱۹۷۹ ز کال کې میکرونیزیا ته کورواکي ورکړه، امریکا د ۱۹۸۲ ز کال په اکتوبر کې د مارشال د ټاپوګانو او د میکرونیزیا د فدرالي ایالتونو کورنۍ چارې دوی ته پرېښودې. په ۱۹۹۰ ز کال کې سمندري توپان د میکرونیزیا ټاپوګانو ته ډېر زیانونه واړول، ۹۵ سلنه کښتونه وران او ۵۰۰۰ کسانو بې کوره شول. د ۱۹۹۱ ز کال په مارچ کې، بیلي د خلکو رایې وګټلې او د میکرونیزیا ولسمشر شو. په همدغه کال کې میکرونیزیا د ملګروملتونو او د ۱۹۹۳ ز کال په جولای کې د نړیوال وجهي صندوق غړیتوب تر لاسه کړ.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو اړیکو په کتاب کې د میکرونیزیا نوم نشته، ځکه خو دواړه هېوادونه خپلو کې کوم راز اړیکې نه لري.

د کابل او پالیکر ښارونو ترمنځ زماني توپیر ٦:۳۰ ساعته او د هوا له لارې واټن بیا ۹٦۲۷ کیلومترو ته رسېږي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۱۵ |
| € | ۸٦,۸۰ |
| Rp. | ٤۹۷ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۱۰ |
| £ | ۱۰۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بيړنۍ شميرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسير ورځپاڼه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**اېډېټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** اېمل خان، نذير احمد سهار
او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**گرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# د اوسنۍ دندې لار مو شتمنۍ ته غځېدلې ده؟

ژباړه: حميدالله حميدي

شتمنۍ ته رسېدل يوازې د مياشتنۍ تنخوا له لارې چې يو نارينه يا ښځه يې اخلي، ممکن نه دي، بلکې له دې څخه زياتې هڅې او تر څنگ يې نور کارو بار ته هم اړتيا ده. کېدای شي دغه څه تاسو هم تجربه کړي وي. ډېری د کارو بار ښتنانو کلونه مبارزه کړې ده. ټول خلک د دې هڅه کوي او دا يې غوښتنه وي چې شتمن شي، خو بيا هم ۹۹ سلنه خلک پر دې چاره نه بريالي کېږي. دا ځکه چې دوی نه يوازې يو روښانه مسير نه وي ټاکلی، بلکې د دې کار لپاره هېڅ فارمول هم نه لري.

د پيسو گټل يوازې لومړنۍ پانگې ته اړتيا نه لري، بلکې کلکه اراده غواړي. له پانگو څخه سمه گټه اخيستل يوه خدای ورکړې وړتيا غواړي. يو کس هرو مرو په دې څلور حالتو کې د يوه حالت درلودونکی وي؛

۱- د کارو بار مالک
۲- کار کوونکی
۳- پانگه وال
۴- د ازاد کارو بار درلودونکی

شتمنۍ ته د رسېدو مسير ډېرې لوړې ځوړې نه لري. که غواړی مالي خپلواکي ولری او شتمنۍ ته د رسېدو مسير پيدا کړی، نو هرو مرو بايد له پورتنيو څلورو مواردو څخه د يوه درلودونکي وی. کله چې له پورتنيو حالاتو څخه يو در پکې و، نو اړ ياست چې د وخت په تېرېدو سره بل هم خپل کړی، ځکه دا ټول په يو بل پورې تړلي او د يو او بل تکميلوونکي دي.

لومړی بايد پوه شی چې له پورتنيو ډلو څخه په کومه يوه کې راځی، څو شتمنۍ ته د رسېدو په مسير کې بل هغه ملگری درته پيدا کړی، چې د يوه بل مهارت درلودونکی وي. معلومه خبره ده چې د مالي پوهې له درلودلو پرته هېڅوک تاسو ته خپله پانگه نه درکوي؛ ځکه هغوی په داسې کسانو پسې گرځي چې هرو مرو بايد پوره وړتيا ولري.



کار کوونکي د پيسو په بدل کې د يوه کس يا شرکت لپاره کار کوي. د خپل ځان لپاره کار کوونکي هغه دي چې په ورځني ډول خپل ځان چلوي. د کار ښتن خو معلومه خبره ده چې ډېره گټه به هغه ته ورځي.

ډېری کسان دا وړتيا لري چې له ذکر شويو څلورو مهارتونو څخه يو لري، څو وکولای شي له دې لارې ځان د شتمن کېدو مسير ته برابر کړي. دا چې دا څلور مهارتونه له يو بل څخه بېل دي، نو له دې لارې د پيسو گټلو چل هم توپير کوي.

ډېره هڅه مو بايد دا وي چې يا مو پانگه خپله وي او يا هم د پانگه وال لپاره لومړی لاس کس اوسی، ځکه په دې سره تاسو کولای شی ژر د شتمنۍ ښتنان شی. که غواړی ژر پر دې دوو کسانو باندې بدل شی، نو ښه ده چې پر خپله ژبه واکمن وی؛ ځکه خبرې کول او تر څنگ يې عمل، ژمنتيا او کلکه اراده هغه څه دي چې خلک ډېر ژر پر تاسو باندې باور وکړي.

تاسو بايد دا زده کړئ چې کومه کلمه چېرته او کله وکاروی او يا يې ونه کاروی. د بېلگې په توگه، (ريسک). د ځينو کسانو لپاره دا کلمه کېدای شي دومره جدي نه وي، خو د يوه کار کوونکي لپاره بيا دغه څه کېدای شي بيخي وېروونکي وي.

د کارو بار د اصلي ښتنانو شعار دا وي: «ولې موږ خپله کار وکړو.» ولې يو بل څوک پيدا نه کړم چې کار راته وکړي او تر ما يې ښه وکړي.

په کارو بار کې د بريا لپاره بايد د رهبرۍ اصول زده کړو. د رهبرۍ اصول په دې مانا دي چې تاسو د خپلو کار کوونکو مهارتونه و پېژنی او را برسېره يې کړی. د مالي راپورونو څېړل، مارکېټينگ، خرڅلاو، حسابداري، مديريت، توليد او مذاکره هم په دې برخه کې خورا اړين دي.

د دې لپاره چې کار پنځوونکي اوسی، نو يوه ښه نظريه هم بايد ولری او له ځانه پوښتنه وکړی، کولای شم خپل کارو بار مديريت کړم؟ او که يوازې د نظريې ور کولو تر بريده پورې پر ځان باور لری. له ځان سره رښتيني اوسئ.

که تاسو له کار کوونکو سره خبرې وکړی، درته معلومېږي چې ډېر سخت د دندې د امنيت په لټه کې دي او له خطره ځان ژغوري. تاسو بايد د يوه معقول دليل له مخې په دوی کې د خطر (رېسک) منلو روحيه پياوړې کړئ. له دوی دا تمه هم نه شي کېدای چې يو دم دې پر ځان باندې لوی خطرونه قبول کړي؛ خو که د پروگرام او معقولې لارې له مخې وي، دا به يې تر ټولو ښه بڼه وي.

دا عبارت مو چې (پيسې، پيسې گټي) هرو مرو اورېدلی دی. دا جمله يوازې د پانگه والو په اړه ويل کېږي. د دوی ښېگڼه په دې کې ده چې د خپلې پانگې له درکه گټلې پيسې هم بېرته په يوه برخه کې بندوي او کارو بار پرې کوي. موخه يې له دې کار څخه دا ده چې له يوه اړخه خپلې پيسې بندې کړي او له بله اړخه ورته گټه راوړي.

له نورو سره د دې کړنلارې توپير په دې کې دی، چې د کس ټول تمرکز پر گټه باندې دی. دغه ډله کسان هر کال له دې سره سره چې ډېرې زياتې پيسې گټي، خو کمه ماليه پرې کوي. په دې مانا نه چې دوی له ماليې تېښته کوي، بلکې دوی د شتمنۍ او عوايدو په خانه کې هېڅ پيسې هم نه لري، چې له مخې يې دولت اړ شي ماليه ترې واخلي.

دا په داسې حال کې ده چې هغه کسان، کوم چې د پيسو لپاره کار کوي (کارکوونکي)، ډېر کله لوړه ماليه پرې کوي. د دوی دا ماليه په مستقيم ډول له دوی څخه په معاش کې گرځول کېږي او ډېر کله خپل عوايد ان ويني هم نه.

د يوه رښتيني پانگه وال داسې کلمې پر خوله وي: «څومره وخت به ونيسي چې لومړی خپله لومړنۍ پانگه لاس ته راوړم او له هغه وروسته د خپلې گټې پر پيسو کارو بار وکړم؟»

# جرمني له افغانستان سره د مرستو د زياتوالي لپاره ځينې شرطونه وړاندې کړي دي

جرمني له افغانستان سره په خپلو مرستو کې د ۷۲ ميليونو يورو په زياتولو سره، د دغو مرستو د دوام لپاره افغانستان ته ځينې شرطونه هم ټاکلي دي.

د جرمني د اقتصادي همکارۍ او پراختيا وزارت مرستيال مارتين جيگر افغانستان ته د خپل سفر پر مهال ويلي، چې هېواد يې د افغانستان – جرمني د همکارۍ د پروژو په بودجه کې ۷۲ ميليونه يورو زياتوي.

جيگر د افغانستان د ماليې وزارت له سرپرست محمد همايون قيومي سره په ليدنه کې ويلي، چې د يادې بودجې په زياتوالي سره به په ۲۰۱۹ ز کال کې له افغانستان سره د جرمني د مرستو کچه له ۱۳۹ ميليون يورو څخه ۲۱۱ ميليونو ته لوړه شي.



بلخوا د افغانستان د ماليې وزارت په يو بيان کې ويلي، چې جرمني د خپلو مرستو د دوام لپاره له افغانستان څخه غوښتي چې له فساد سره د مبارزې په برخه کې خپل تدابير ډېر کړي، غوره حکومتولۍ ته وده ورکړي او اصلاحات تطبيق کړي.

په بيان کې راغلي: «که چېرې دا شرايط پوره نه شي، نو د مالي ملاتړ د يوې برخې مخه نيول کېدلای شي».

د ماليې وزارت وياند شمروز خان مسجدي تېره ورځ رسنيو ته ويلي: «د دغو مرستو په مقابل کې موږ ځينې اصلاحي بينچمارکونه (معيارونه) ورسره لرو، چې پرون په دواړو اړخونو خبرې وشوې، چې دوی څنگه خپلې مرستې زياتولی شي او د دې تر څنگ کوم اصلاحي موارد چې د افغانستان حکومت وعدې کړې دي، د هغه په راپور باندې هم خبرې وشوې».

مسجدي زياته کړې، د ۷۲ ميليون يورو د مرستې تړون د شنبې په ورځ (لړم ۱۱) د دواړو خواو ترمنځ لاسليک شو او جرمني به دا پيسې د مالي اصلاحاتو په بدل کې د ۱۳۹۸ لمريز کال تر پايه افغانستان ته ورکړي.

# برېښنا شرکت: د کندهار خلک او دولتي اداري د برېښنا له درکه ۹۰۰ ميليونه افغانۍ پوروړي دي

په کندهار کې د برېښنا شرکت مسوولين وايي چې پر خلکو او دولتي ادارو يې د برېښنا د لگښت له درکه ۹۰۰ ميليونه افغانۍ پاتې دي.

د دغه ولايت د برېښنا شرکت رييس امان الله فاروقي ويلي، د دغو پيسو ډېره برخه (۵۰۰ ميليونه افغانۍ) پر دولتي ادارو او (۴۰۰ ميليونه افغانۍ) پر افرادو او شخصي شرکتونو پاتې دي.

هغه ويلي، د اړوندې ادارې پر هڅو سربېره، يادې ادارې او اشخاص نه دي توانېدلي چې دغه پيسې تاديه کړي.

د هغه په خبره، د برېښنا د لگښت نه ورکولو له امله په عايداتي او پرمختيايي برخه کې د برېښنا شرکت چارې له خنډ سره مخ شوې دي.



فاروقي زياتوي، څومره چې د برېښنا کاروونکي د برېښنا د لگښت په تاديه کې چټک اقدام کوي، هومره ژر خدمات پراخولای او برېښنا چمتو کولای شي.

که څه هم نوموړي د برېښنا شرکت د پوروړو، دولتي ادارو او افرادو نومونه نه دي اخيستي، خو ويلي يې دي، هغوی ته يې يوه مياشت وخت ورکړی چې که په ياده موده کې د برېښنا شرکت پيسې تاديه نه کړي، نومونه به يې رسنيز کړي.

نوموړي دا هم ويلي چې په دې تړاو يې ۱۵ تنه عدلي او قضايي ارگانونو ته ور پېژندلي چې ډېری يې د شرکتونو مسوولين او عام افراد دي. فاروقي ويلي، په دې وروستيو کې يې دغه موضوع د ولايت مقام اداري غونډې ته هم وړاندې کړې او په دې برخه کې يې د ولايتي ادارې د مسوولينو همکاري غوښتې ده. بلخوا د کندهار د والي وياند بهير احمدي پژواک خبري اژانس ته ويلي، د ولايت مقام په اداري غونډه کې پرېکړه شوې چې د برېښنا شرکت پوروړو دولتي ادارو او افرادو ته بايد مکتوبونه ولېږل شي او د برېښنا شرکت د پيسو د ورکړې په برخه کې اقدام وشي. هغه زياته کړې، د والي په مشرۍ په دغه غونډه کې پرېکړه وشوه چې که اداري او اشخاص تر يوې مياشتې د برېښنا شرکت پيسې ور نه کړي، نومونه به يې د رسنيو له لارې اعلان شي.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

دوشنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۱۳مه | د ۲۰۱۹ د نومبر خلورمه | ٤٥٦مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | ۱۸ | ۲٦ | ۱۳ | ۲٥ | ۲۳ |
| ٥ | ٥ | ۱۰ | ٦ | ۱۳ | ١٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤٦ | لمر ختل ۰٦:۰۹ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیگر ۰۲:٤۱ | ماښام ۰٥:۰٥ | ماخوستن ۰٦:۳۰

## نړۍ



## مانافورټ: د ډیموکراټانو د کمپیوټرونو پر سرورونو روسيې نه، بلکې اوکراین برید کړی و


۳

## سعودي عربستان: د تېلو د دولتي شرکت (ارامکو) یوه برخه ازاد بازار ته وړاندې کیږي



سعودي عربستان په رسمي ډول د دغه هېواد د تېلو د تر ټولو لوی دولتي شرکت ارامکو دوه سلنه برخه ازاد بازار ته اعلان کړې ده.
سعودي هیله لري چې د دغه شرکت ارزښت به له یوه نیم ترېلیون ډالرو پورته وي. د راپورونو له مخې، سعودي اوسمهال د دغه شرکت یوازې دوه سلنه ونډه ازاد بازار ته وړاندې کړې او ښایي دا اندازه تر پنځه سلنې لوړه شي. سعودي سلاکاران د شنبې په ورځ وتوانېدل چې د پانګوالو د ملاتړ په موخه، د ارامکو د ونډو پلورلو بیه تر لاسه کړي. سعودي تمه لري چې په دې کار سره به په نړیوالو شرکتونو کې د سعودي د تېلو د دغه دولتي شرکت ارزښت لا ډېر شي. د دغه هېواد چارواکو ویلي چې په ازاد بازار کې به د ارامکو د ونډو رسمي کار په راتلونکې ډسمبر میاشت کې پیل شي. د سعودي د انرژۍ وزیر شهزاده عبدالعزیز بن سلمان ویلي: «په ازاد بازار کې د دغه شرکت د ونډو اعلان که څه هم وځنډېد، خو حتمي دی او د وخت ټاکل یې د ولیعهد محمد بن سلمان په لاس کې دي، چې د تېرې جمعې په ورځ یې د سیمه ییزو پانګوالو د کافي ملاتړ د نشتوالي له کبله دې کار ته زرغون څراغ ښودلی دی». په ورته وخت کې د سیمه ییزو چارو شنونکي جان مایر ویلي، چې بهرني پانګوال د سعودي پر وړاندیز شوې لومړنۍ بیې (دوه ټریلیون ډالر) قانع نه دي.

## راپورونه: د سوریې په شمال کې موټربم برید لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اړولې ده



د سوریې په شمالي ښار تل ابیض کې د موټر بم برید له امله ۱۳ تنه وژل شوي او تر ۴۰ ډېر نور ټپیان دي.
د سوریې د بشري حقونو لندن مېشتې ډلې ویلي، دا پېښه د تل ابیض ښار په له ګڼه ګوڼې ډکه سیمه کې شوې چې له امله یې ۱۳ تنه وژل شوي او شاوخوا ۴۴ نور ټپیان دي. دا پېښه یوه میاشت وروسته تر هغه کېږي چې د ترکیې ملاتړ لرونکو سوریایي سرتېرو راپور ورکړ، چې دا سیمه یې په بشپړه توګه د ترهګرو له موجودیته پاکه کړې ده. راپورونه دغه راز وایي، د یاد هېواد په شمالي سیمو کې د ترکیې د عملیاتو له امله، په زرګونو بې کوره شوي خلک په خورا بد بشري وضعیت کې قرار لري.
بلخوا داسې راپورونه هم خپاره شوي چې د دغې پېښې ډېری قربانیان ترکي پلوه ملېشې دي. په ورته وخت کې د ترکیې دفاع وزارت هم دغه راپورونه تایید کړي او ویلي یې دي چې برید د سوریې په شمالي سیمو کې د کردانو د ملېشه ځواک له خوا شوی دی.
وروسته له هغې د سوریې په شمال کې د ترکیې او کردانو ترمنځ کړکېچ زیات شو، چې امریکا تېره میاشت اعلان وکړ چې له یادې سیمې خپل ځواکونه وباسي.
د امریکا له دغه اعلان سره سم، ترکي ځواکونو د سوریې په شمال کې د کردانو د پې کې کې ډلې پر وړاندې پوځي عملیات پیل کړل، چې ډېر نړیوال غبرګونونه یې راوپارول.

## نبیل: اگر مبادلۀ زندانیان به آغاز مذاکرات منتهی شود، توجیه‌پذیر است



رحمت‌الله نبیل، رئیس پیشین ریاست عمومی امنیت ملی می‌گوید که در اصول مخالف مبادلۀ زندانیان به ویژه انس حقانی با دو استاد پوهنتون امریکایی – افغانستان است.
این در حالی است که انس حقانی و سه فرماندۀ مهم دیگر طالبان در میان هشتاد عضو این گروه استند که خواسته شده‌است در برابر رهایی دو استاد پوهنتون امریکایی – افغانستان، مبادله شوند. انس حقانی و این سه فرماندۀ مهم طالبان، در زمان ریاست آقای نبیل در ریاست عمومی امنیت ملی، بازداشت شده بودند.
آقای نبیل، رهایی این افراد را به امنیت کشور خطرناک می‌داند، اما به این باور است که اگر این کار سبب آغاز گفت‌وگوهای صلح شود، می‌شود که چنین قربانی یی را پذیرفت.
او در این باره گفت: «من در اصل مخالف این تبادله هستم؛ چون این باعث تشویق گروگان گیری‌ها می‌شود، اما اگر این تبادله یک قدمی باشد برای صلح، اگر چه که در اصل مخالف این کار هستم، اما بخاطر صلح می‌شود که صورت بگیرد».
آقای نبیل می‌گوید که در میان هشتاد تنی که طالبان خواستار رهایی آنان شده‌اند، سه تن آنان از افراد بسیار مهم و کلیدی گروه طالبان استند: «من که شنیدیم افراد مهم در این لیست، انس حقانی است، برادر ملا عمری، حافظ رشید است و مالی خان، یکی از افراد بسیار مهم سراج الدین حقانی است».
با این همه، منابع نزدیک به طالبان می‌گویند که تا اکنون امریکا و طالبان دربارۀ آن اعضای گروۀ طالبان که قرار است با دو استاد پوهنتون امریکایی مبادله شوند، به یک توافق نهایی نرسیده‌اند.
سید اکبر آغا، فرمانده پیشن طالبان بیان داشت: «دربارۀ این تبادله توافق شده‌است میان امریکا و طالبان، اما دربارۀ شمار دقیق این افراد تا هنوز توافق نهایی نشده‌است».

## ژوند

## پېک شوي خواړه د بډوډو لپاره ښه نه دي




بل هغه بد عادت چې ستاسو پر بډوډو ناوړه اغېز کوي، د پېک شویو او بسته بندي شویو خوړو خوراک دی. دغه راز د چپسو، برګر او سره کړای شویو خوړو خوراک هم د بډوډو پر زیان تمامېږي. په پېک شویو خوړو کې د سوډیمو کچه لوړه وي. هغه کسان چې د بډوډو له ناروغۍ سره لاس او ګرېوان دي، باید په خپلو خوړو کې د سوډیمو کچه را ټیټه کړي. دغه راز څېړنو ثابته کړې ده چې په بسته بندي شویو خوړو کې د فاسفورس کچه هم لوړه وي. که د بډوډو ناروغي لرئ، دغه څه مو هم پر زیان تمامېږي. هڅه وکړئ چې له (DASH) غذايي رژیم څخه ګټه واخلئ. ډش غذايي رژیم له سبزیو، مېوې، غلو دانو، لبنیاتو، د کب له غوښې، حبوباتو او هغو څښاکونو څخه جوړ دی، چې د خوړو کچه پکې کمه وي. د ډېرو اوبو څښل مو له بډوډو د مضرو او اضافي موادو په وتلو کې مرسته کوي. همدا راز د ډېرو اوبو څښل مو په بډوډو کې د ډبرو له جوړېدو او شدید درد څخه ساتي. کېدای شي ځینې کسان له دې کبله چې بډوډې یې کمزوري دي، مجبور شي چې لږ اوبه وڅښي، خو یو نورمال کس باید په یوه ورځ کې له یوه نیم تر دوو لېترو پورې اوبه وڅښي.

## د حالت د بدلون لپاره مو لاس پکار شئ!




همدا اوس چې څه لرئ، په کمه سترګه مه ورته ګورئ. کېدای شي لږ او کم ارزښته درته ښکاره شي. کېدای شي هرڅه ستاسې پر ضد وڅرخېږي، خو که مو ایمان او باور قوي وي او له خدای پاک څخه د خپل حال د بدلون غوښتنه وکړئ، په یوه شېبه کې هرڅه بدلون مومي. خدای پاک به ستاسې پر مخ هغه دروازې پرانیزي، چې هېڅ وخت په طبیعي ډول نه پرانیستل کېږي. خدای پاک کولای شي له هغه مو هم لوړ موقف ته ورسوي، چې د ډېرو لوړو تحصیلي سندونو په وسیله نه شي رسېدای. خدای پاک په داسې ځای کې تاسې ته لار جوړوي چې ان تاسې یې د لیدو تصور هم نه شئ کولای. پر خدای پاک ایمان ولرئ او پر درکړو شیانو مو شکر وباسئ.
تاسې همدا اوس د هېڅ شي کمی نه لرئ، تاسې هېڅ عیب نه لرئ، تاسې بدمرغه نه یاست. تاسې د لوی ذات هغه مخلوق یاست چې په ټولو مخلوقاتو کې یې درته د اشرف یانې د بهتره کلمه کارولې ده. که د خدای پاک پر درکړو څیزونو د زړه له تله شکر وباسئ، همدا شیان چې تاسې یې واړه بولئ، پر لویو شیانو بدلېدای شي. کوچني کارونه چې کله پیلوئ، په کمه سترګه مه ورته ګورئ.